شاه ولی آرین

۲۰۲۰/۰۲/۲۹

# دوکه

## لنډه کیسه

د پسرلي په وروستیو کې چې د سیند د مستو څپو له امله ښار ته د سیمي د خلکو تګ راتګ ستونزمن کېده، هرومرو به دوي راتلل.

د دوي راتګ د دغي سیمي د خلکو لپاره ستره خوشالي وه. او هر چا به ویل چې جاله وانان بیا راغلل. ښار ته د خلکو د تلو مخه خلاصه شوه. جاله د غویو د پوستکو نه جوړیږي او یوه ساده کلیوالی شانته بیړی ده.

سرداری او محرابی جاله وانان د ننګرهار د کامې اوسیدونکي او د جمدر اکا د عسکری انډیوالان وو. دوی د عسکرۍ خوړې او ترخې ورځې یو ځای سره تېرې کړې وې، د دوی یاري دومره خوږه وه، چې نابلدو کسانو به سوچ کاوه چې سرداری او محرابی ګنې د جلندر ورونه دي.

دغه سیمه چې دوي په کې جاله واني کوله د خان اباد ولسوالی او د اقتاش سیمې ترمنځ سیند باندی، چې د دې سیند اوبه د آمو پر لوی رود ورګډیږي، د افغانستان او تاجکستان تر منځ د بریډ کرښه جوړوي.

جمدراکا به هر کال د ساړه ژمي سرې شپې او ورځې له خپلې کورنی سره یو ځای په مشرقي کې له سرداري او محرابي سره تیرولې. همدا راز کله نا کله به سرداری اومحرابی له خپلو ماشومانو سره د دوبي په تودوخه کې اقتاش ته راتلل او د جمدر اکا سره به یې دغه وخت تیراوه. همدا وجه وه چې دوی د جالي د پاره دغه په زړه پورې ځای مینډ لی و.

سرداری او محرا بی سره ورونه وو او د دغه سېند پر غاړه یې څه نا څه ۶ کاله جاله چلولې وه. د اوسیدو ځای یې د جمدر اکا کور و.

د جالي د تګ راتګ بیه یو لس ګون و. ځینو به د کال د تګ راتګ بیه یو څه ناڅه غله دانه ورکوله. د جالی د چلیدو له پیل نه بیا تر پایه پورې به په جمدر اکا ځکه اختر و چې هره ورځ به سرداري او محرابي د ښارنه یو څه د پسه غوښه، ګوره، پتاسې او نور د اړتیا وړ شیان کور ته راوړل او یو ځای به یې سره خوړل.

کله چې به کارو بار یو څه ښه و، نو په هغه ورځ به یې څه نا څه روپۍ هم جمدر اکا ته ورکولې.
جمدر اکا چې هر ماښام جالي نه لاسته راغلي پیسي لیدلې او ترخګ یې د ځینو کورنیو د کلنی اجارې دانې اوغلې سترګو کې کته پورته کیدې، حیران پاتې و چې څه وکړی. یو خوا ډیره پخوانی انډیوالي او ورورې او بل خوا ډیرساده کسب او پیسي ګټل.

جمدر اکا له مودو سوچونو وروسته دا په زړه کې غوټه کړه چې څنګه دا عاید خپل کړي. ده سوچ وکړ چې لومړی باید د جاله وانی چم زده کړي. د همدې پټ پلان په اساس یې یو ماښام د ډوډۍ له خوړلو وروسته د واره محرابي ته داسې وویل: «وروره! رنګ دې د کورکمن شانته ژیړدی، لکه چې ناروغ یې. هره ورځ کار، هره ورځ کار، نور به هم ناروغي در سخته شي. زه د څه لپاره یم. ته سبا دمه وکړه، ستړی یې. زه خو دې هم لکه ورو غوندې یم»

محرابي لږ سوچ نه وروسته وویل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

«سمه ده لالا داسي چي وي نو ته ولاړ شه»

په دې ډول جمدر اکا وتوانید، چې د مرستي په دود کله يو ورور راستنوي او کله بل ورور او پر ځای يې دی جاله چلوي تر څو چي يې يو څه نا څه نيمه کوډه جاله واني زده کړه.

د ژمي شپې او ورځې پر جمدر اکا ځکه لکه کلونه تېرېدل، چې جاله نه چلېده. سږ کال ژمی چې سرداري د ده ورتګ ته سترګې په لار و، جمدر اکا آن د مخه د نه ورتګ خبر ور ولېږه چي کوچنی لور يې ناروغه ده نو ځکه نه شی ورتلی.

د پسرلي له را رسيدو سره سم جمدر اکا سرداري او محرابي ته احوال ور ولېږه، چې ډېره ستره ستونزه سږ کال پيښه شوه د جالي کاروبار نه کېږي، ځکه چې د سيند د پاسه د حکومتي پروژې له خوا کوم پُل په همدی سيند باندي جوړېږي، نو ځکه ستاسو راتګ ضرور نه دی. بل دا چي سږ کال دوبی موږ هم په کور کي نه يو. غواړم ماشومان د کوټرې سره د هغې د پلار کور فرخار ته بوزم، ګوره کنه خفه چې نه شئ، سږ کال دوبی مو راتګ بې ګټې دی، نو ځکه مي خبر درکړ، چي په خپله سېمه او يا د کوم بل ځای نه د کارو باره پاتې نه شي. رښتيا چې هغه دواړه ورونو ته د جمدر اکا خبرې لکه د کاڼي کرښې وې، نو ځکه د راتګ نه ستانه شول.

جمدراکا د څو ورځو سوچونو وروسته کله چې يو څه باوري شو، چې هغوی رانغلل، آن يوه مياشت د مخه يې جاله را وويسته او د سيند په غاړه يې هره ورځ د خپل ځوی شانګ سره د جاله واني پېښنې کولې، تر هغو چي د کار په کولو ښه داډه شو.

څو ورځي وروسته د سيند د مستئ وخت شو. سږ کال د سيند دا ځپې د تېرو کلونو په انډول نوري هم لوړې او بېرونکي وې. خو جمدر اکا په ډېر احتياط او مېنه جاله واني کوله. اوس نو د جالي ټولي پيسي د ده خپلي وې. خپلو ملګرو ته يې د نه رښتيا ويلو په وجه به کله نا کله دومره په سوچونو کي ډوب شو لکه چې څه يې ورک کړي وي او يا دا چي کومه لويه ستونزه لری.

د ده د پيسو ګټلو موده ډېره اوږده نه شوه. له لنډې جاله وانۍ وروسته د جمعې د ورځې په مازيګر چې آن تر مخه لا د سيند په تکو شنو اوبو کې د طوفانی باران خړې ورګډې شوې وې او د خونړيو غمېزو نښې له ورايه په کې څرګنديدې، د جمدر اکا خيالونه هم د ډوبيدو په لوري رهي وو.

هو! د جمدراکا جاله په دغو ځپو کي را ګېر او په بل مخ واوښته. ده چي سمه تجربه نه لرله، نو هرڅومره هڅې يې چي وکړې، ناري او سورې يې ووهلې، ځای يې ونه نيو. نه د ده لامبو زده وه او نه د شانګ.

سورليو هم له ويرې نه چغې وهلې. جمدر اکا تر ډېرو هڅو وروسته وشو کړای چې د سورليو له ډلي نه يوازې پنځه تنو سره مرسته وکړي. شانګ او دوه تنه نورې سورلي د غونډارو په شان د اوبو په تل کي ترې تم شول.
شپه راغله، سهار شو ټول کليوال ووتل او د سيند په دواړو غاړو کي يې مړي لټول، تر ډېرو هلوځلو وروسته يې مړي وميندل. هر چا جمدر اکا ته د ملا متی سترګي وراړولې، سپکې سپورې يې ورته ويلې:

«جاله دي چي نه وه زده، ولي دي جاله واني کوله؟ عالم دي تباه کړ، د دې خوارانو کورنی او بچې به څه کوی؟»

جمدر اکا ته له يوې خوا د خلکو سپکې سپورې او له بلې خوا د خپل زوی شانګ په درد او غم کې داسي سوځيده لکه وچ لرګی چې په اورکې وسوځي. ده همدا يو زوی درلود او نورې يې ټولې لوڼې وې، هم يې له سرداري او محرابي سره دوکه سترګو ته دريده او هم يې د زوی او خلکو غم په زړه کې ځاله کړې وه.

مېرمن يې د زوی د مرګ له اورېدو سره سمه لېونۍ شوه هر لور به يې چيغې وهلې او ويل به يې:

«خاورې مې پر سرشوې، بوره شوم، سړی خدای تعالی راباندی ظالم کړ، تباه شومه.»

بيا به لکه لېونۍ غونډې چوپه شوه، کله نا کله به يې له ځانه سره ورو ـ ورو ويل:

«دروغ يې وويل، د پيسو لپاره يې د کلونو ـ کلونو انډيوالانو سره ټګي اودوکه وکړه...
خدايه توبه مې دې وي، خدايه توبه مې دې وي او همداسي پسي بونګيده»

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ